# ملي پراختيا انکشاف ملی


نشریه شرکت انکشاف ملی

ملي پراختیا شرکت په هېواد کې هغه یوازینی دولتي شرکت دی، چې د لویو او سترو زېربنایي او ملي پروژو د پلي کولو وړتیا لري!

پنجشنبه | ۳۱ حمل ۱۴۰۲ | ۲۹ رمضان ۱۴۴۴ | دور دوم شماره اول

برای دریافت این نسخه و آخرین گزارشات اینجا سربزنید www.ndc.gov.af




امروزه وسایل ارتباط جمعی و رسانه ها یکی از مهم ترین راه های برقراری روابط بشر به شمار می رود که در همه کشور ها و ملت ها نقش اساسی و حایز اهمیت را در زمینه های مختلف از جمله سیاست، اقتصاد، اجتماع و فرهنگ ایفا می کند.

افغانستان نیز خوشبختانه از کشور های است که شاهد حضور پر رنگ رسانه ها است و وقتا فوقتا از دستاورد ها و رویداد های نظام اطلاع رسانی نموده و نقطه وصل میان مردم و دولت می باشد.

در واقع رسانه ها با ایجاد روابط پویا در عرصه اجتماعی، اقتصادی، فرهنگی، سیاسی به انباشت حافظه اجتماعی جامعه کمک کرده و زمینه پاسخگوئی و حکومتداری خوب را فراهم ساخته اند.

همکاران ما در شرکت انکشاف ملی به منظور کاهش فاصله دیدگاه و فراهم سازی بستر اطلاع رسانی از کار های تطبیق پروژه های زیربنائی این شرکت دور دوم نشرات هفته نامه خود را آغاز نموده که در هر پانزده روز از طریق صفحات مجازی و آنلاین به دسترس شما قرار میدهند.

من به عنوان رئیس عمومی شرکت انکشاف ملی متعهد و مصمم به اطلاع دهی شفاف و منظم از اهداف، برنامه ها و دستاورد های این شرکت هستم و تلاش ما این است تا روند رشد، توسعه و انکشاف اقتصادی افغانستان را تسریع بخشیده و در مجموع زمینه رفاه و آسایش را از طریق تطبیق پروژه های زیربنائی برای هموطنان خویش فراهم نمائیم.

در پایان حلول عید سعید فطر را برای همه امت مسلمه و هموطنان عزیز خود تبریک گفته و از خداوند بزرگ موفقیت های بی شمار را برای خوانندگان گرامی و همکارانم در بخش مطبوعات خواهانم.

به امید یک افغانستان مرفه و عاری از فقر

عبدالرحمن عطاش
رئیس عمومی اجرائیوی شرکت انکشاف ملی

## ملي پراختیا شرکت په تېر ۱۴۰۱هـ ش کال کې د ۹۳ ملي او زېربنایي پروژو له ډلې د ۸۳ پروژو چارې بشپړې کړې دي





د ملي پراختیا شرکت مسوولینو، شنبه (۲۶ وري ۱۴۰۲) د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال، د ۱۴۰۱ مالي کال د کړنو او فعالیتونو راپور له رسنیو سره شریک کړ.

د ملي پراختیا شرکت مالي او اداري مرستیال، مولوي عبدالولي عادل وویل: ملي پراختیا شرکت په تېر ۱۴۰۱هـ ش کال کې د ۹۳ پروژو د تطبیق چارې چې بندونه، کانالونه او عامه ځایونه پکې شامل وو تر لاس لاندې نیولې وې، چې له ډلې یې تر دې دمه د ۸۳ پروژو چارې بشپړې کړې او د پاتې ۱۰ سترو او ملي پروژو چارې په خورا چټکۍ سره رواني دي.

مولوي عبدالولي عادل زیاته کړه، د قوش تېپې د ستر او ملي کانال د لومړي فاز چارې ۷۲.۲۷ سلنه بشپړې شوي، اوسمهال په کې شاوخوا ۴ زره ماشینري او له ۷ زره څخه ډېر کسان په کار بوخت دي. همدارنګه نوموړي وویل، د کمال خان بند د قلعه افضل او ترکو کانالونو د کیندنې چارې هم د ملي پراختیا شرکت له لوري په چټکۍ سره رواني دي.

د ملي پراختیا شرکت مسؤلینو وویل، دا شرکت په ۱۴۰۲هـ ش کال کې پلان لري، چې له اړوندو ارګانونو سره په ګډه د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ۷۲ هغو پروژو چارې بېرته پیل کړي، چې په هېواد کې د سیاسي تحولاتو په راتلو سره یې چارې درېدلې وې او همدارنګه د ۱۰ هغو سترو او ملي پروژو چارې، چې تېر کال پیل شوي چارې به یې لا چټکې شي.

د یادولو وړ دی، چې ملي پراختیا شرکت له تاسیس څخه تر دې دمه د هېواد په ګوټ ګوټ کې په بېلا بېلو

## اهمیت کانال قوش تپه

قسمت اول



کانال قوش تپه یکی از بزرگترین کانال‌های انتقال آب افغانستان است که از ولسوالی کلدار ولایت بلخ شروع شده و آب روز آمو را به طول ۲۸۵ کیلومتر و عرض 152 متر و عمق ۸.۵ متر به ولایت های جوزجان و فاریاب انتقال می‌دهد. با تطبیق این پروژه توان اقتصادی افغانستان به ویژه در عرصه زراعت به گونه قابل ملاحظه افزایش خواهد نمود. این حوزه با داشتن زمین های حاصل خیز و شرایط آب و هوایی مناسب از ظرفیت خوبی برای تولید اقلام زراعتی به منظور رفع نیاز های داخلی و امنیت غذایی کشور برخوردار می‌باشد. افغانستان در حال حاضر به عنوان متغیر وابسته اقتصادی به کشور های همسایه محسوب می‌شود، حجم واردات سالانۀ اقلام و محصولات زراعتی مورد نیاز این کشور به مراتب از میزان صادرات آن بیشتر می‌باشد. براساس ارزیابی‌های انجام‌شده، بالاتر از 90 درصد تولیدات ناخالص داخلی کشور، به‌صورت مستقیم و غیرمستقیم، وابسته به کمک‌های جامعه‌ی جهانی می‌باشد و این وابستگی تا سال 2024 ادامه خواهد یافت. پس از گذشت بیش از بیست سال هنوز هم بنیادهای لرزان اقتصاد داخلی کشور، همچنان لرزان و شکننده است، و اگر وضعیت به همین منوال ادامه پیدا کند، وابستگی مالی برای سال‌های متداوم ادامه خواهد یافت، با توجه به میزان وابستگی اقتصادی افغانستان، تطبیق پروژه های بزرگ و ملی به سان پروژه «کانال آبی قوش تپه» عاری از مزیت نخواهد بود.

با احداث کانال بزرگ قوش تپه زمین های لامزروع و دشت های خشک حیرتان تحت کشت و پلان تولیدی قرار خواهند گرفت، در نظر است تا بعد از احداث این کانال صدها هزار هکتار زمین بکر و بایر تحت جریان آب این کانال قرار گیرند و محصولات مورد نیاز زراعتی از زمین این حوزه تأمین گردند تا بعد از پروسس و بسته بندی معیاری نیاز های داخلی را مرفوع و در صورت ضرورت به کشور های دیگر صادر گردند.

## د کمال خان بند کانالونو د کیندلو چارې ۹۲ سلنه بشپړې شوې دي



د ملي پراختیا شرکت له لوري د کمال خان بند د قلعه افضل او ترکو کانالونو د کیندلو چارې په خورا چټکۍ سره رواني دي او چارې یې تر دا مهاله ۹۲.۷۷ سلنه بشپړې شوې دي.

د ملي پراختیا شرکت مسؤلینو په خبره، ترکو او قلعه افضل کانالونه د کمال خان بند له اصلي کانالونو څخه دي، چې په ۱۹ فرعي کانالونو وېشل کېږي او په ټوله کې له فرعي کانالونو سره ۲۴۶ کیلومتره اوږدوالي لري او دا مهال یې د کیندنې په چارو کې ۳۰۶ ماشینري او له ۴۰۰ څخه ډېر کسان په کار بوخت دي.

د یادولو وړ دي، د کمال خان بند د قلعه افضل او ترکو کانالونو کیندل، چې په ټوله کې د کمال خان بند شاوخوا ۵۰۴۴۵ زره هکتاره ځمکې په بر کې نیسي د هېواد په جنوب لوېدیز کې یوه له سترو او حیاتي پروژو څخه شمېرل کېږي.

## د تخارولایت د نمک آب کانال چارې په ژرګتې اخیستنې ته وسپارل شي



نمک آب کانال د تخار ولایت په نمک آب ولسوالۍ کې موقعیت لري، چې د جوړولو چارې یې د ملي پراختیا شرکت له لوري په چټکۍ سره رواني دي.

د ملي پراختیا شرکت د مسؤلین وایي، دا کانال ۱۲۰۰ متره اوږدوالی او ۱۸ متره پلنوالی لري، چې د ۲۲۰ متره مکعب اوبو د لېږد وړتیا ترڅنګ ۱۱۰۰۰ زره هکتاره کرنیزې ځمکې هم خړوبوي، چې چارې یې تر دا مهاله ۹۷.۹ سلنه بشپړې شوي او ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.



## د توري بند چارې د ملي پراختیا شرکت له لوري په چټکۍ رواني دي







د توري بند په زابل ولایت کې موقعیت لري او د جوړولو چارې یې د ملي پراختیا شرکت له لوري پرمخ وړل کېږي.

د توري بند ۲۴ متره لوړوالی، ۷۵ متره اوږدوالی لري او ۲.۹ میلیونه متره معکبه اوبه ذخیره کوي، چې د ۱۰۰ کیلو واټه برېښنا د تولید ظرفیت لرلو سر بېره به ۶۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه او ۵۰۰۰ کورنیو ته به د څښاک اوبه هم برابرې کړي.